مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۰۹/۰۸

# غزل

د هستی نه د نیستی دیار ته لاړو
چې د یار په ځای زاړه اغیار ته لاړو

هره اوښکه کښې داستان د درد او غم دی
په جنون کښې یو ناشنا خمار ته لاړو

له پرونه مو بدتر د نن حالت دی
بیا د مړو په خیر د مړو ښار ته لاړو

لګوو به لا ترڅو ډېوې قبرو ته
دا د کوم مذهب ښودلي لار ته لاړو

له سپیرو شونډو مو ښکاري پسرلېه
چې خزان غونډې پیکه بهار ته لاړو

مصطفی پسرلی
07/09/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ